نومسلمانان بايد غور اوفكر وكړي چي په پخوانيو قومونو ولي عذابونه اوستونزي رانازلي شوي ؟ ولي مسخ اوبه اوروسول او ولي اوبو ډوب كړل ابا بي له گناه اوتيري څخه بل كوم علت لري . او اوس چي گورو مونږ هم دهماغه ستونزو سره مخ يو چي تيرقومونه ورسره مخ شوي وودالحكه چي مونږ هم په خپلو كړو كي دهغوي په ليارو ولاړو. هماغه شان گناهونه كوو. دخداي امرونه ماتوو دبدي اوتيري څخه مخ نه اړوو ځينو خلكو ته داخبره ناشوني ښكاري خوواقعيت دادي چي مونږ ترزني په جاهلي ژوندي كي ډوب شوي يولكه څنگه چي اروپا بي عاداتو اواخلاقو او اروپايي اصولوهومره ترتاثير لاندي راوستلي يو . چي اوس راته ناروا ناروانه ښكاري اوڼه راته لويه گناه اوبدكار څه بدبريښي ان ترديچي چي نن لاځيني خلك حتي گاهونه اوبدكارونه په ډير افتخار سره كوي.

له دي كبله چي مونږ دفتني په زمانه كي يو دبلاگانو اوستونزو سره مخ اوداسلام ددبدي او هيبت دنشتوالي په زمانه كي ژوند كوو. اوزمونږ په منځ كي اوس هم داسي خلك ليدل كيږي چي دجهنم په لور بلنه كوي ليكن كه څوك بي ترشاه ودريدل جهنم ته به ځي.

داورخلك زمونږ په منځ كي شته اوزموږپه ژبه خبري كوي نو پدي اساس زماپورتني خبره بايد چاته نابيره نه وي.

ابي هريره (رض) روايت كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي.ورستيو وختونو كي به داسي خلك پيداشي چي دنيا اودين دواړه به دخپلو شومو اهدافو درسيدو لپاره وسيله وگرځوي) او سره گډوډوي به بي دخلكو لپاره به دنرمي په خاطر د پسه پوستكي اغوندي.

دپسه په شان نرمي به كوي ژبي به بي دبوري څخه خوږي اوزړونه به بي دليوانو وي . خداي (ج) داورخلكوته فرمايي : اياماته پيژني؟

اوكه دخداي (ج) په مقابل كي بي ځايه جرأت كوي په خپل ځان مي دي سوگند وي چي په داورخلكو به داسي عذاب راښكته كړم چي نيكان خلك به هم ورته گوته په غاښ وي . (ترمذي)

حضرت علي رض الله عنه روايت كوي چي په خلكو به داسي وخت هم راشي چي اسلام به دعا داتو بل څه نه وي دقرآن به بي دنوم څخه بل څه نه وي. جوماتونه خوبه ښه جوړوي خو دهدايت له لوري به وران وي ، عالمان به دځمكي دمخ شرير ترين خلك وي فتني به ددوي له خواپيداكيږي اوددوي په منځ كي به تاويږي . دابن ابي الدينا (كتاب)

عبدالله ابن مسعود له خپل پلارڅخه روايت كوي چي په كوم كلي كي زنااوربا زياته شي نوخداي (ج) بي دهلاكيدواجازه وركړي.

حسن په مرسل روايت سره نقلوي چي كله خلكو علم ترلاسه كړ اوعمل بي پريښود ، په ژبو بي مينه اوځبت ښكاره كاوه ، خو په زړونو كي يودبل وينو ته تږي وه او صله رحمي بي پريښوده ، نو خداي (ج) پري خپل لعنت راښكته،دحق له ويلو څخه بي گونگيان اوله ليدو څخه بي رانده كړي عبدالله بن عمر بن الخطاب رضي اله عنه روايت كوي چي :

زه دنهه كسانو مهاجرينو سره ناست وم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته مخ راواړاوه او وبي فرمايل : اي مهاجرينو زه له خداي نه تا سوته ددي پنځو كارونو څخه پناه غوارم په هرقوم كي چي زنازياته اوځيره شوي ده خداي (ج) پري داسي مرضونه اودردونه مسلط كړي دي چي پخواني خلكو هغه هيڅ نه پيژندل اوهر قوم چي وزن بي كم كړي دي ، نو خداي جل جلاله پري قحطي ، دژوند سختي اودواكمنانو تيري اوظلم مسلط كړي دي.

هرقوم چي وعده ماته كړي خداي پري داسي ناآشنا دښمن مسلط كړي چي دوئي لوټ كړي دي اودهرقوم مشرانو چي دخداي (ج) پرحكم پريكړه اوفيصله نه ده كړي هغه قوم بي په خپل منځي اختلافاتو اخته كړي دي (ابن ماجه)

حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه روايت كوي چي : ژردي چي ابادكورونه به وران شي چي بدان بي په نيكانو برېمن اومنافقان بي واكمنان شي. (احمد)

دانسان په زړه دگناهونواغيزه

محمدسالم بغلاني

زړه په انساني جسم كي ترټولو مهم غړي دي چي له ژوندسره ئي دانسان ژوندتړلي ، اودمرگ په صورت كي ئي انسان دژوندله خوړولاس په سركيږي همدغه شان دانسان داصلاح اوگمراهي محورهم زړه دي ، كه زړه اصلاح اوسالم وي نودانسان عمل اوكرداراوټولي هلي ځلي په سمه لاروي اوكه زړه دگمراهي په طرف راغب شي نوانسان دگمراهي په ځاه كي پريوزي اواعمال اوكردار ئي فاسدكيږي درسول الله (ص) دامشهورارشاددي :

چي اعمال په زړه پوري تړلي دي اوانسان ته دهغه دنيت اوارادي په تناسب ثمره وركول كيږي، اودغه شان په بل ځاي كي فرمائي :

يادساتي په بدن كي يوه ټوټه غوښه ده كه هغه مواصلاح اوسالمه وساتله نو ټول بدن اصلاح اوسالم دي، اوكه گمراه اوفاسده شي نوټول بدن فاسدشي واوري ددي ټوټي نوم زړه دي .

كه په زړه كي داطاعت له احسا س سره سره اخلاص وي، رياكاري اوتظاهرنه وي كوم دنيوي غرض اومقصد نه وي نوداكارداجرثواب مستحق دي اودالله (ج) له خوا ددغه نيك عمل په مقابل كي له لس چنده څخه تراوياچنده اوتراوه سوه چنده پوري، بلكه له هغه څخه بي هم زيات اجراوثواب په برخه كيږي .

رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي :

خوكه دكوم نيك كاردسرته رسولوپه وخت دنيوي هدف اولالچ دانسان زړه محاصره كړي، ياني دتظاهراوشهرت خيال پيداشي نونه يوازي داچي سرته رسيدلي عمل ضايع كيږي بلكه دقيامت په ورځ ورته سزاهم وركول كيږي .

الله تعالي (ج) په قرآن عظيم الشان كي دانسان لپاره داخروي نجات مهم شرط دزړه طهارت اوپاكوالي په نښه كړي دي فرمائي :

هغه ورځ چي چاته به مال اواولادهيڅ گټه ونه رسوي، غيرله هغه چاچي له پاك زړه سره داالله (ج) دربارته حاضرشي .

څنگه چي دانسان اصلاح ياگمراهي، دصالحه اعمالو قبليدل يانه‌كيدل اوداخروي نجات ياعذاب مسئله په زړه پوري اړه لري نوبايد ترټولو وړاندي داهم معلومه شي چي بداعمال په زړه باندي څه اغيزه پري باسي .

ترڅومعلومه شي چي بداعمال دانسان په اصلاح ياگمراه كيدواواخروي حساب كتاب كي څه رول لوبوي .

۱- دهرمسلمان په زړه كي دخداي (ج) عظمت اومحبت موجوددي چي البته دگناه په ارتكاب سره دغه عظمت اومحبت ورو ورو پاي ته رسيږي ، ځكه دامكن نه ده چي دانسان په زړه كي دي دالله (ج) ويره موجودوي اوانسان دي بياهم دگناه مرتكب شي .

۲- كله كله دگناه دارتكاب په شكل كي دانسان په زړه كي دندامت اوشرمندگي اوحياپت احساس راژوندي كيږي اوبالاخره ورته دتوبه كولو اوله خپل رب څخه دبخښني غوښتني توفيق ورپه برخه كيږي خودگناهوعادي انسان اوهغوي چي له بدواعمالوسره ئي تل سروكاروي، ددغوپاكو احساساتو څخه بي برخي كيږي اوبيا ورباندي داسي وخت راشي چي دگناه كولو سره سره ورته نه خودندامت او پښيماني احساس پيداكيږي اونه ورباندي شرميږي بلكه برعكس ورباندي وياړي هم اوپه غوندواومحفلونوكي ورباندي په خنداگانواواوچته غاړه افتخارهم كوي .

رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي :

زمادامت هرسړي به وبښل شي، غيرله هغوكسانوچي په ډاگه سره گناه كوي اوپه ډاگه سره دگناه كولو يوشكل دادي چي دشپي په تاريكي كي دگناه مرتكب شي، بياپه داسي حال كي ورباندي سهارشي چي الله (ج) ئي رازپټ ساتلي وي، خودي پخپله اعلان وكړي چي اي فلانيه ! بيگاه مادااوهغه كاروكړ .

۳- دگناه تسلسل دانسان په زړه كي كوړوالي پيداكوي اوداكوړوالي دزړه دحركت كوړوالي نه دي بلكه مقصددادي چي دانسان دفكر، نظراوتوجه لوري كږيږي اوالله تعالي (ج) فرمائي : توكله چي هغوي منحرف شول، الله (ج) هم دهغوي زړونه كاږه كړل اوخداي (ج) فاسقانوته هدايت نه كوي .

اوفرمائي : حقيقت دادي چي زيات شميرپيريان اوانسانان مونږددوزخ لپاره پيداكړي دي، هغوي زړونه لري خوتدبرورباندي نه كوي .

٤- ظاهرين سړي فكركوي چي سكون اوآرامي په مال دولت اودنيوي بسياتوكي دي خوحقيقت اواطمينان اوسكون يوازي اويوازي په اطاعت كي پټ دي اوالله (ج) فرمائي يعني پوه شي چي دالله (ج) په ذكرسره زړونه مطمئن كيږي الهي احكاموڅخه سرغړونكي انسان ته دغه سكون اواطمينان نشي په برخه كيداي كه څه هم دميليونو روپيوخاوند وي اوياورسره دنورو دنيوي نعمتونوانبارونه پراته وي ، الله (ج) فرمائي هغه كسان چي زماله يادداوذكرڅخه سروغړوي ددنيوي ژوندساحه به ورباندي تنگه شي اودقيامت په ورځ به ئي ړوندراپورته كړوكه په تاسوكي كوم بوتن بدكارووينې بايد دمټ په قوت ئي منع كړي كه دمټ زورئي نه وي نوپه ژبه دي جهادورسره وكړي اوكه داهم نشي كولاي لرترلږه بايد په زړه كي ورته بدوواپي اوداكم زوري ايمان دي په بل روايت كي راغلي څوك چي دبدوكارونوخلاف جهادكوي مؤمن وي دايمان وروستي معياردادي چي دفاسد وعنصاروڅخه بايد نفرت اوكركه وكړي ، كه دنفرت پر ځاي ورسره مينه وكړي نوايمان ورسره نه پاتي كيږي اوپه زړه كي ئي دكفرتاپه وهل كيږي كه څه هم دي دكوم لوي مسلمان خاندان غړي وي اونوم بي هم عبدالله ياعبدالرحمن وي .

رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي كله چي يومومن دگناه مرتكب شي نوپه زړه كي ئي يوداغ پريوزي كه بياتوبه اواستغفاروكړي اوله گناه څخه لاس واخلي نوزړه ئي پاك شي او كه گناهونو كي ورانذي ولاړشي نودغه توړداغ لاپسي لوي شي ترډي چي ټول زړه ئي احاطه كړي اودهغه ران يعني زنگ دي چي الله تعالي په سوره المطففين كي دهغه ذكركړي دي . اوبالاخره داسي وخت راورسيږي چي دگناهونو پرله پسي ارتكاب په وجه دالله تعالي له طرفه به دغه زړه باندي مهرولگولاي شي دالله تعالي له عبادت څخه دتل دپاره محروم شي

مسؤليت علماوروشنفكران

عبدالهادي

اسلام ازبدو پيدايش هدف حملات گوناگون دشمنان قرارداشته وباگذشت زمان حملات مخالفان تغيريافته وشيوه هاي گوناگون ومرموزي بخود گرفته است. عصرپيامبربزرگواراسلام (ص) وخلفاي راشدين (رض) كه عصرشگوفايي، ترقي وتعالي اسلام بود درين عصر فرخنده اردوي اسلامي مرزهارادريد ونورهدايت به اقصي واكناف جهان درخشيد وجهان ظلمت زده ازجهل وخرافات نجات يافت . ولي درآن عصرعلاوه بدشمناني كه علم جنگ وپيكاررا درمقابل مسلمين بلندنموده بودند ، دشمنان پنهاني نيز داشت كه درزبان وحي ازآنهابنام منافقين تذكررفته است . درآن عصرفرخنده باوجودي كه تعداد مسلمين درمقايسه بادشمن خيلي اندك وكم بود امااتحاد ووحدت صفوف مسلمين كه ناشي ازرهبري صالح وعالمانه جامعه بود توانست برهمه دشمنان خفي وجلي اسلام پيروزگرده و دسايس وتوطيه هاي گوناگون دشمنان راخنثي سازد .

فتوحات مسلمين همچنان ادامه داشت وپايگاه هاي شرك ونفاق پيهم بدست مسلمين فتح ميگرديد، دايرهٔ حكومت اسلامي درآسيا، افريقا واروپا گسترده شدوهيچ نيرويي توان جلوگيري ازبسط وتوسعه اين آئين جهانسازورهايي بخش رانداشت بعدهازمانيكه نفاق بين جوامع اسلامي بخصوص امرا، رخنه كردودستگاه دولت اسلامي دچارتفرقه واختلاف گرديدقدرت خواهي هاوانحصارطلبي هادربين سران دولت نفوذ كرد. دشمن توانست جلوپيشرفت اسلام را سدنمايدوضربات خصمانه اش را برپيكر جهان اسلام واردسازد.

اينگونه عداوت هابين اسلام وكفر از بدو پيدايش اسلام تاكنون وجود داشته ودرآينده نيز ادامه خواهديافت ولي باگذشت هرعصروزمان شدت يافته واشكال و ابعاد گسترده ومرموزي بخود گرفته است .

همزمان با آغاز دوره رنسانس ، استعماركوشيد مذهب رادشمن علم وتمدن معرفي كند وبراي نيل به اين هدف استعماري برتحميل افكارواندیشه الحادي واستعماري اش برجوامع اسلامي بخصوص دراندیشه اقشارجوان تلاش نمود. وبااجراي اين طرح خصمانه ازيكطرف قشرجوان جوامع اسلامي را ازفرهنگ وايديولوژي غني اسلامي بيگانه مي ساخت وازجانب ديگرفرهنگ الحادي خودرا دربين مسلمين پخش مينمود واين برنامه را باروش مرموزي پيش مي برد .

استعمارمعمولاً مذهب را ميكوبيدتاراه نفوذ خودرا باز سازد و احياناً ازآن پشتيباني مينمود و مردم را عامبانه به آن سرگرم ميكرد تاازورود دشمن آگاه نگردند .

غرب قبل ازآنكه به آستانه استعماروامپرياليزم جهاني قدم بگذارد اسلام را خوب مي شناخت . زيرا اسلام تمدن هاي بزرگ تاريخ رانه تنهادرآسياوافريقا بلكه درخود اروپا نيزبناكرده بود، درصحنه ها وزمان هاي مختلف بااسلام درگيرشده وشكست خورده بود درعرصه هاي علم فرهنگ وتمدن نيز اسلام دراوج ترقي وتعالي قرارداشت استعمارگران كه مسلمين رانيرويي بزرگ وتهديدكننده درمقابل خود ميديدند وتوان مقابله وايستادگي دربرابر آنرادرخوداحساس نمي كردند. چون درميدان نبرد ورويارويي نظامي بارهاشكست خورده بودندبه استعمار فرهنگي ازجمله تحريف حقايق تحميل انديشه هاي غيراسلامي وسياست اسلام زدايي درجوامع اسلامي پرداختند . اسلام هرگاه رويارويي بادشمن درگيربوده است، دراوج قدرت خصم ونهايت ضعف خود هميشه فاتح بوده است چنانچه جهاد ملت مسلمان مادرمقابل بزرگترين نيروي مادي جهان شاهد گوياي اين حقيقت است امااهنگاميكه دشمن جامه دوست برتن كرده وبمنظورايجاد فتنه وفساد، درلباس صلح وخيرخواهي ظاهرشده آنگاه اسلام حتي دراوج قدت وجلال وشكوهش دچارتفرقه شده و تضعيف گرديده ودشمن توانسته است ضرباتي برپيكرآن وارد سازد. بناءً جامعه مادرشرايط جاري بيش ازهرزمان ديگري به علماوروشنفكران نيازمنداست كه بابينش ومعرفت اسلامي شان زمان ، مشكلات ومسايل جاري رادرك كرده وجامعه راكه هدف تهاجم فرهنگي ، وسياسي بيگانگان قرارگرفته نجات دهند . الحمد لله اينگونه علماودانشمندان كه ميتوانند جوامع ماراازسقوط درپرتگاه فرهنگ منحط والحادي بيگانه نجات دهند، بيش ازهرزمان ديگري دربين وجود داشته وبااحساس مسئوليت ميتوانند موفقانه درراه رهايي ملت وجامعه اسلامي قدم بردارند وشرايط كنوني جامعه ماكه درجريان چهارده سال جهادومبارزه با بزرگترين ارتش جهان وقبل ازآن ، ازهرگونه تعليمات اسلامي محروم مانده علاوه برآن

قدرت هاي استعماري شرق وغرب كوشيده اند فرهنگ منحط خودرا دربين جوانان ماپخش ونشرنمايند اكنون زمان آن فرارسيده است كه به تعليم وتربيه جوانان پرداخت آثاروبقاياي فرهنگ بيگانگان راازجامعه ريشه كن كرد. قشرجوان وتحصيلكرده بي راباتفكرواندیشه اسلامي درمقابل تهاجم فرهنگي اجانب بسيج نمود ويك انقلاب فرهنگي فكري واعتقادي رابرپاكرد تاعلايق بااستعمار ازميان برداشته شود ودست هاي زرمندوزورمند استعمارگران كوتاه گردد. گرچه هرفرد باتناسب دانش ومنفعت اش درراستا مسئوليت دارد اما افراد مؤمن متعهدي كه ازسرچشمه زلال معارف اسلامي سيراب اندمسئوليت بزرگتروبيشترازديگران دارند وبخاطراداي مسئوليت شان قدم هاي عملي درين زمينه بردارند ملت رنجديده و بلاكشيده خودرا ازين ورطه بدبختي نجات دهند ومسئوليت شان را دربيشگاه خداوند متعال اداي نمايند

افغانانوته روسي تحفي

بلال مجددي

دتحفي تبادله ددوستانوترمنځ اريكي ټينگوي اومينه زياتوي .دتحفي په ليدو ددوست خاطري ژوندي كيږي اريادونه ئي تازه كيږي . مگر افغان شوروي دوستي ددوستي په تاريخ كي نوي باب پرانست دداسي يوي دوستي باب چي نري وال ورته هك پك پاتي دي .

افغان شوروي دوستي له ۱۹۱۹ نه تر۱۹۷۸ پوري ، ٦۰ كاله دومره ټنيگه وه چي دعقايدو اونظامونو تضاد پرهغه هيڅ اثرنه غورځاوه .

هلته دخداي (ج) سره دښمني دحكومت رسمي تگ لاره وه دلته اسلام رسمي دين و هلته دين بي معني څيز گڼل كيده دلته دين دنجات لاره، هلته جوماتونه رنگيدل دلته جوماتونه رنگيدل، هلته نوي كمونستي نظام دلته زورشاهي نظام . لنډه داچي داتوله ښكاره تضادونه اودروسانواوكمونيزم څخه زمونږ دملت له ورايه كركي دغه دوستي ته صدمه نه رسوله . ددوستي بيړي په ډيره چټكتيا نامعلوم منزل خواته روانه وه . زمونږ حاكمان غيرله اقتداره له هرڅه نه ددغي دوستي دپايښت لپاره تيروو خونه پوهيدل چي ددي دوستي بنا اوبنسټ ډير سست دي.

ددغي خوږي دوستي په سلسه كي دروسانوځواكمونستي نظريي اوافكار دغوره تحفي په توگه افغانستان ته رواني ؤي . ځوانان به په دلودلو دتحفي دخوښولو او دراوړلو لپاره دروس پوهنتونونو ته ليږل كيدل اوهلته دهغوي مغزونه دحقيقت پسندي، اوحب الوطني افكارو اواحساس څخه پرېمتخل كيدل اودكمونستي نظريي ستني به وركول كيدي .

هوا كمونستي نوي افكارله روسي زړوساماتونو الاتواووسلوسره يوځاي افغانستان ته لكه سيلاب روان ووردځوچي په كال ۱۳۵۷ كي روسي كمونستي نظام هم دتحفي په شكل مونږته وليږل شو داتحفي "گوداگي ژړيموته " هم څلحان بي نه نيوه يوډبل پسي بدليدل خوبوه بنه ئي هم دخلكو لخوانه قبليده. روس نوازحاكمان يودبل پسي په روسي گولي وېشتل كيدل دهماغه گولبوپه وسيله كوم چي مخكي همدغوحكاموته دتحفي په توگه ليږل شوي وي .

دتحفي اوهداياتوليږل دومره گرندي شول چي دمستقيم سرك او ددوستي دپل جوړولو ته ضرورت پيښ شو. پل په بيړه جوړشو اواوس دوسايلو اونظريو سربيره فوځونه اوقواوي هم دكاروانونوپه شكل ليږل كيدل خو يوئي هم زمونږدخلكو خوښ نه وويلكه دابدخوند، اوبدمزه تحفي بيرته ليري كيدي. نورنو روسي تحفي خپل خونداوارزښت له لاسه وركړي وو اوخريداران ئي نه لرل اوحاكمانوهم په خلكودهغوډيلوتوان نه درلود حتي خلكو هغوته هم دروسي تحفي په سترگه نه كتل. بالاخره كله چي ټولي روسي تحفي مستردي شوي روسان چي پوه شول چي تحفي ئي زمونږداولس لپاره ارزښت نلري اوآخرني تحفي ئي هم دروسي رژيمونودڅوځوتو اوكمونستي نظام په شكل په كلي توگه زمونږدغيرتي اولس لخواردشول نودآخرني تحفي په توگه اودافغان شوروي داوياكلني دوستي په ياد اوافتخارني دمليونونوپه شميرمانيونه راته پريښودل .

كه څه هم دافغان شوروي ددوستي دنښي نساني په توگه ډيريادونه اوتحفي مونږته پاتي دي، وران ويجاړملك، دويني اوښكوروانې ويالي اورودونه، په ميلونو بي سرپرسته اوبي خاونده كورنۍ، رنگ كلي اوښارونه ، نفاق شقاق ، پرهارپرهارزړونه څيري گريوانونه ، أسمان ته اوچتي چغي اوفريادونه او ... خومين دهغوي ديوي ستري تحفي په توگه مونږته پاتي شوي هغه هم كم نه بلكه داټكل له مخي له لسو نه ترديشو ميليونو پوري يعني زمونږ دټول نفوس يونيم چنده داسي تحفي چي هرافغان ته يوه دوه رسيږي .

رېښتياهم داتحفي ته چي گورو زمونږداوياكلن دوست ستړشوروي اتحادمرامونه اغراض اوعزايم مونږته په گوته كيږي . دماينونوقطارونه دهغوي رنگ اوشكل دباروتونه ډك ډك زړونه زمونږداوياكلن اوتاريخي دوست اهداف په ډاگه كوي اوعبرت دي دنړي خلكوته چي دوستي داسي هم كيداي شي اوتحفي داسي هم وي ! داسي تحفي چي تركلونوكلونو پوري به ددوست يادونه ژوندي ساتي دهرماين په وسيله چي دهيواد په هرگوټ هرافغان شهيدكيږي دافغان شوروي ددوستي يادبياتازه كيږي اوخلكودتيروحاكمانواو ددغه دوستي په هكله قضاوتونه كوي چي واه څه باتدبيره حاكمان ! څه دوستي اودوستان ! اوڅرنگه تحفي اوهدايات!

زه تاسوته اطمینان درکوم چي راتلونکي موروښانه ده ...

دروان کال دکب دمیاشتي په ۱٤ نیټه چي دجمعي له ورځي سره سمون خوري ، دحزب اسلامي امیر وروروحکمتیار دپېښوردنصرت مینې په جامع جومات کي دجمعې له لمانځه مخکي یوه تاریخي وینا واوروله چي په زرګونو حاضرینو واوریده، دادي موږدي لاربنوونکي وینا بشپړ متن دشهادت لوستونکوته خپرو.

مجاهد وروروحکمتیار له حمد اوثنا نه وروسته وویل !

ورونو زه پس له اوږدي مودي یعني تقریباً یوکال وروسته دخپلو مهاجروورونو سره په پاکستان کي ګورم متأسف یم چي ورونو ډېر انتظار وویست زه په خپل وخت ونشم توانیدي راورسیږم . زه ددي انتظارمعافي له ورونو نه غواړم ، باید داواضح کړم چي زه دڅه دپاره پس له یوکال نه پاکستان ته راغلم.

موږ راغلي یوچي په افغانستان کي جګړه دتل له پاره پاي ته ورسیږي موږ په خپل ملك كي سوله غواړو په افغانستان کي دملت دخوښي اسلامي حکومت غواړو. کله چي موږ محسوسه کړه چي مقابل طرف نور دجنګ نه ستړي ، ستومانه اونادم دي اوهغه اوس

موږراغلي یوچي په افغانستان کي جګړه دتل لپاره ختمه اواسلامي حکومت لپاره لاره اواره کړو

خبرواتروته تیاردي موږ دځنډاوتاخیر نه پرته خبرو اترو ته چمتو شوي یو . کوښښ موداو چي دامذاکرات په داخل کي وشي.

دګن شمیر خایونو نوم مورواخیست چي هریو دوي غوره کړي موږ ورته تیاریو جلال آباد ، لغمان ، سروبي دکابل شا وخوا په هرځاي کي چي وي ،شرق ، شمال ، جنوب اوغرب کي په لوګر باګردېز او خوست کي په وردګو غزني اوکندهار کي چي په کوم ځاي کي نوروته مناسب وي او احساس دامنیت کوي موږ هماغته خبرواترو ته تیاریو خومتاسفانه دهغو اصرار اوټینګار په دي و چي دامذاکرات باید دملك نه بهروشي موږ هم چي غواړو دافغانستان دمسئلي له پاره یوعادلانه پایدار او معقول حل ژر تر ژره تر لاسه شي ، هلته جنګ دتل له پاره پاي ته ورسیږي پایداره سلح اوامن په افغانستان کي تحکیم شي دي بلني ته لبیك ویلي اومذاکراتو له پاره چمتو شوي یو. کوښښ موداد‌ي چي دمجاهدینو ترمینځ ډېر ژر په یومعقول اوعملي حل توافق وشي په داسي حال کي چي متاسفانه مقابل طرف تل خپل تعهدات نقض کړي او اوس دتأسف خبره داده چي دهغوي په قول ، اقرار اوتعهد باندي څوك باورنشي کولي . په داسي حال کي چي هغوي دکمونستو جنرالانو ترقوماندي لاندي زموږ په خلاف جنګ پیل کړ اودادي په افغانستان کي دنجیب دحکومت دنسکوریدو نه بعد دلسونو رومیاشتو له پاره هم هغوي دجنګ دادامي باعث شول په داسي حال کي چي د پېښوړټول معاهدات نقض شول که دادقیادي شورا په ارتباط وو دپشاور دمعاهدي تقاضا داوه چي دتصمیم ګیري ترټولوبااختیاره اوباصلاحیته مرجع دي قیادي شوراوي ولي قیادي شورا عملاً منحل وه ، هغه ته هیڅ اعتنا نه ده شوي که دا دوزیرانو ټاکل وو، دکابیني تعین وو، دسفیرانو ټاکل وو ، دملت په ملي سرمایه کي تصرف و اوکه بانکونوکي د ، که دپوځي قطعاتو جوړول وو ، نوقیادي شورا ته هیڅ نوع اعتنانه ده شوي ، یو تنظیم کوښښ کړي چي ددولت پرټولو ادارو دي قابض شي ، سفیران دي ددي تنظیم وي ، والیان اووزیران دي ددي تنظیم وي له موږ سره په دي موده کي داسي معامله شوي چي دحزب

اسلامي په دي ټول لوي اسلامي دولت کي حتي یوماموږهم نه دي توظیف شوي. دافغانستان په لري پریوتي علاقه داري کي زموږ علاقه دار هم چانه دي منلي.

متاسفانه ، نه تنها داچي هغوي کوښښ کړي چي یوتنظیم دي په ټول دولت قابض شي بلکه دحزب زرګونه کسان یې په کابل کي په دي جرم نیولي چي دحزب کارت له ځانه سره لري بلي خواته هغوي کمونست جنرالان دتوپونواوټانکونو سره په کابل کي منلي ، دکمونستو جنرالانو فرقي ، مسلح قطعات یې په کابل کي منلي ، په ائتلافي اداري کي هغوي ته پوستونه اووزارتونه ورکړشوي خودي ته نه ووتیار چي دحزب اسلامي یوعادي کارکن دي په کابل کي وزغمي ،سره ددي ټولوسوابقو ، چي معاهدات نقض شوي ، سره له دي چي دزموږ سره جفا او ظلم شوي ، یوازي موږ سره بلکي نه دټولو تنظیمونو سره شوي. دا دهغوي دغلطي معاملي او پالیسي په وجه ده چي نن ټول تنظیمونه ، ټول قوم او ولس اومجاهدین یوطرف ته اوهغوي بل طرف ته ولاړ دي ، پېښور دمعاهدي تقاضا داوه چي دشپږ ومیاشتو په

مینځ ،مینځ کي مخصوصاً داستاد رباني دځلورومیاشتو په دوران کي باید ټولو تنظیمونو ته دمنلو وړشورا جوړه شي . خو هغوي یوطرفه دخپلي خوښي شورا دائره کړه له نهو تنظیمونو نه اوو تنظیمونو ددي شورا دجوړولو مخالفت وکړ شورا دجوړولو مربوطه کمیسیون داته لسو غړونه ۱٤ غړو دامطالبه وکړه چي دشورادجوړولو کار دي وځنډیږي په دي خاطر چي دهغوي لایحه اوطرح نه دي مراعات شوي ولي هغوي دي ته اعتنا ونکړه دخپلي خوښي شورا یې جوړه کړه ، موږ ددي شورا دجوړولو سره توافق وکړ، کیمسیون ته مو خپل نمایندګان معرفي کړل ، زموږ په نمایندګانو دسوقصد منصوبي عملي کولو له پاره دزي وشوي خوسره له دي موږ خپلو نمایندګانو ته ویلي چي په جلساتو کي به خامخا برخه اخلي صدق اواخلاص سره به ددي شورا جوړولو له پاره همکاري کوي . موږ دژړه له کومي غوښتل چي شورادي جوړه شي ، زموږ ټینګار تل په دي وو چي انتخابات دي وشي دنوروپه خاطر موداخبره ومنله چي که اوس انتخابات ممکن نه وي درسته ده ټولوتنظیمونوته دمنلو وړ شورادي جوړه شي لمړي دي دهري ولسوالي اوعلاقه داري په سطح محلي شوراګاني جوړي شي بیا دي همدغه شوراګاني خپل نمایندګان مرکزي شورا ته معرفي کړي له دي نه دي یوه ستره دملت نسبي طور ممثله شورا جوړه شي هغه دي دراتلونکي حکومت په هکله تصمیم ونیسي موږدي ته تیار شو چي ولایاتو ته هیاتونه ولیږو اما کله چي موولیدله چي دلته دطرحي مراعات نه کیږي د دوکي ، خدعي ، رشوت له لاري یوتنظیم غواړي دخپلي خوښي کسان راغونډ کړي اودي ته دمنتخبي شورا نوم ورکړي ، دي ته دملت اودولس دممثلي شورا نوم ورکړي یوازي موږ نه بلکه اوو تنظیمونو مقاطعه وکړه اوداخبره یې رسماً اعلان کړه چي موږ ددي شورا دټولي پروسي سره موافق نه یو باید داخبره وځنډیږي اودهغي طرحي مطابق دي شورا جوړه شي چي دپېښور په معاهدي کي ذکرشوي چي دغه دځلورومیاشتو موده به دیوي ورځي له پاره نه تمدیدکیږي داځلور میاشتي ددي له پاره دي چي حتماً دي په دي کي متفق علیه

شورا جوړه شي ولي په ځلورومیاشتوکي شورا جوړه نشوه ، ددوري په پاي کي ددي کوښښ کیده چي دامووده دیوي نیمي میاشتي له پاره تمدید شي. دمعاهدي په خلاف داموده دیونیم میاشتي له پاره مزید تمدید شوه.

دوي دادلیل مخکي ویلي وو چي په شپږومیاشتو کي انتخابات نشي کیدي خو هغوي په دوو هفتو کي شورا جوړه کړه حال داچي مخکي به یې ویل چي شپږ میاشتي دمنتخبي شورا له پاره کافي نه دي ، شورا یې راوبلله په داسي حال کي چي یوتنظیم دخپلي خوښي کسان راوستي ، ترنیمایي نه زیات دشورا غړي له جلسي نه وځي دپاټي کسانو له پاره یوصندوق ږدي ټولو ته وایي چي دادي اوس رهبران راځي ، سبا ته راځي وعده یې کړي په لاره دي ددي له پاره چي هغوي دوکه کړي اوداخلك دي ته وادار کړي چي پاته شي ، د جلسي په ورځ بیا هم نیمایي بایکاټ کوي تقریباً(۱۳۰۰) غړونه څلورسوه کسان په رایه ګیري کي برخه نه اخلي. هغه هم مکلف وو چي په یو صندوق کي به رایه اچوي ، سبا له اعلان کوي چي دملت نمایندګان ، داهل حل اوعقد (شورا) خپل ددولت رئیس وټاکه ، موږ تر همدغه لحظي صبرکړي ، پرېښي مودي چي خلکو ته معلومه شي چي حقیقت څنګه دي خبري څرګندي شي الحمد لله زموږ دصبر اود حوصلي په نتیجه کي ډېر حقایق خلکو ته څرګند شول خلك په دي وپوهیدل چي دادله دملت په نسبت اودنورو تنظیمونوپه هکله څه اراده لري دشورا نه بعد دملك همغه حالت وو ، دولت په ارګ کي خلاصه شوي وو ، رئیس جمهور له قصر نه ترجاده میوند پوري چي له قصر نه دوه کیلومتره فاصله لري تګ راتګ نشي کولي. دارګ زنداني ، له ارګ نه پلچرخي ته نشي تللي ، دهغه دتسلط ساحه شاید دغسي یوډائره وي چي شعاع یې دوه کیلومتره نه وي ددي سره ، سره هغه په دي هڅه کي دي چي اوس خامخا باید ځان تحمیل کړي دجنګ لاره غوره کوي ، په لمړي جګړه کي یې په حزب اکتفا ونکړه په پنځم دثور دکابل رژیم نسکورشو . دحزب قوتونه له دي نه پرته چي یوه قطره وینه دي توییه شي کابل ته داخل شول ،موږ هم همدا غوښتل چي دکابل رژیم دي دجنګ نه پرته نسکورشي دکابل په ټولو دولتي دفاترو باندي شنه بیرغونه اوچت شول . خلك سرکونو ته راووتل دتکبیر نعري وي، دانقلاب دبري شعارونه وو په همغه ورځ موږ اعلان وکړ چي نور جنګ ختم شوي ولي متاسفانه دغو عناصرو دکمونستانو سره لاس یوکړ یوه نامقدسه ائتلافي جبهه یې جوړه کړه سبا له په شپږم دثور زموږ په خلاف جنګ پیل کړ همغه جګړه ددغو لسومیاشتو جګړو سرآغاز وو ، چا چي هغه سیه سنت کیښود دټولو وروستیو جګړومسؤلیت دهغه په غاړه دي. دجنګ پیل اوآغاز ددوي په لاس شول ، په شرعي اواعتقادي لحاظ سره دامسئله ډېره مهمه ده . دمسلمان اودمسلمان ترمینځ جنګ حرام دي ولي که مسلمان پرتا باندي تیري کوي ته ددفاع حق لري دفاع پرتاواجب ده که ته په دي دفاع کي مړي شهید یې اوکه تیري کوونکي په دي دفاع کي مړي ته ماخوذ نه یې لوي لوي خبري خو پریږده چي دیو ملك اودملت دسرنوشت مسئله وي حتي چي که څوك وغواړي په زور درنه دستمال واخلي اوته دفاع کوي په دٌ دفاع کي ته مړي شهید یې اوهغه ستاپه لاس مړي ته ماخوذ اومسؤل

نه یې زموږ عقیده همدا حکم کوي.

دحضارو دتکبیر نعري، ... ورونو هغه اسلام چي ددغسي یوي وړي مسئلي پرسر تا ته ددفاع حق درکوي اوکه ته پردي دفاع کي مړي شهید یې ماته وواياست چي که څوك وغواړي چي دقوم حق غصب کړي په ټول قوم دخپلي خوښي دحکومت مسلطه کولو اراده لري ، ټولو ملي شتمني چور اوچپاول کړي ،ټول کابل غارت شوي ، ټول کابل تالاشوي ملي شتمني خوپریږده دخلکو ناموس هم خوندي نه دي ، تاسو راشي وګوري چي دکابل په جادو کي داسلامي دولت په خلاف خلك مظاهري کوي اوهمداوایي چي زموږ نه سرخوندي دي ،نه ناموس تاسي به د ناهیدي قصه اوریدلي وي شپږم منزل نه دخپل عفت ددفاع په خاطر ځان ګزاروي ،ماته یې هغه بله ورځ پلار خط رالیږلي وو، زه په دي فخر کوم چي زمالور دخپل عفت اودعزت نه ددفاع په خاطر دشهادت لار اختیار وي ، زه غواړم چي دادټول افغان قوم دلوڼو له پاره یوه الګو اونمونه وي ، اسلامي دولت کي د چا ناموس خوندي نه دي ، دلته علما ناست دي ، تاسو پوښتنه وکړي هغه امیر اودولت چي دملك دارادي قدرت اوسیطره ونه لري حتي که ملت په خپله انتخاب کړي وي که عملاً داکراه اوداجبار نه پرته بیعت هم ورسره شوي وي دهغه امارت صریحاً مسلم نه دي خلك دهغه په اطاعت مکلف نه دي خوك چي دزور اودسازش له لاري قدرت ته ورسیږي بیا دي ملك اداره نکړي شي په هیوادکي موږ په لمړي جنګ کي هم دفاع کړیده کابل مو پریښود ددي له پاره چي نه موغوښتل په کابل کي دي جنګ ادامه وکړي خپل قوتونه مو دکابل شااوخوا کي ځاي په ځاي کړل خوموږ یې هلته هم ونه زغملو ،سره له اوریند نه ځلور میاشتي مکمل زموږ په سنګرونو مسلسل انداختونه وو ، باور وکړي چي ځلورومیاشتوکي ما ته دغسي ورځ نه ده په یاد چي ماته له سنګرونو نه داخبرنه وي رارسیدلي چي زموږ په سنګرونو باندي د بي ایم ۲۱ دزي کیږي دتوپ ټانك او آراګان ډزي کیږي څه وکړو اوماورته ویلي چي صبروکړي په دي ټوله موده کي موږ دري ځله عکس العمل ښولي هغه هم یوعادي عکس العمل دا فقط

موږدي ته تیار یو چي ټول سوابق هیر کړو ، دوروروولي اودوستي نوي باب پرانیزو

ددي له پاره چي دهغوي انداختونه مو تم کړي.

بالاخره دغو قوتونو ټول یوبل ته لاس ورکړ دکمونستو جنرالانو تر قوماندي لاندي زموږ په خلاف او هغه ستره جګړه پیل کړه .هغوي ګمان کاو چي ددي جګړي په مقابل کي دحزب مقاومت ممکن نه دي بهرکي هم ځینوطاقتونو همداتصور کاوه ، ټولي هغه حلقي چي نه یې غوښتل دحزب اسلامي په لاس دي حکومت جوړشي یا دي حزب اسلامي په حکومت کي فعاله ونده ولري غوښتل یې چي حزب اسلامي ختم شي تبعید شي ، تجرید شي په تبلیغاتو سره دملت په ذهنیتونوکي یوتکولي شي او دجنګ په ذریعه له صحني نه تجریدشي ،ټول دي ته منتظرو چي حزب اسلامي به ددغه قوي ،منظمي مسلحي ، اومجهزي جبهي مقابلي ته څنګه تم شي . زموږ په خلاف دومره ستره جګړه شوي چي دافغانستان په تاریخ کي سابقه نه لري دروسي پوځونو په موجودیت کي سابقه نه لري یوویشت ورځي مکمل دشپي او ورځي زموږ په سنګرونو باندي بمبارد شوي نه یې شپه کتلي اونه ورځ

ولي فیصلي خداي (ج) کوي دجنګ انجام او عاقبت خداي (ج) تعینوي فتح اوشکست دهغه (ج) له طرفه دي دټولو دتصور په خلاف الحمدالله په هغه ستر اوخونړي جنګ کي نه یوازي هغوي ونشو توانیدلي چي دحزب یومورچل هم ونیسي،

بلکه موږ ښه ډېر پیشرفت کړي ، نوي مناطق مونیولي دهغوي مورچلي مونیولي ، په ټول جنګ کي زموږ اتیا نفره په شهادت رسیدلي او دوي دخپل اعتراف په اساس له دوه زرونه زیات مړي درلودل. هغه جنګ هم ناکام شو ، داټول قوتونه دیو بل په څنګ کي ونشو توانیدلي چي حزب یوانچ هم په شاوتمبوي .

چون دهرڅه واکدار اوواکمن خداي (ج) دي فیصلي همغه (ج) کوي په هغه جنګ کي هم دغه نامقدسه ائتلافي جبهي شکست وخوړ او اوریند وشو. بیا هم څه معاهدات اوموافقتنامي امضاء شوي چي دیوه په نسبت هم التزام ونشو دشوراي اهل حل اوعقد دجوړولو نه بعد چي ولیده وضعیت همغسي دي او قوم یې نه مني اود هغوي په وضع کي څه تبدیلي رانه غله په اوضاع مسلطه نشول په کابل کي امنیت تامین نشو ، لا ري خلاصي نشوي ، نو فیصله یې وکړه چي د حزب په خلاف باید سترعملیات وشي فیصله یې کړیوه چي په څلوروساعتو کي به حزب ختمو حکمتیار به هم ژوندي نیسو. خپلو مینځونوکي هم ویلي وو چي داخل به دحزب جرري باسو دکابل لوګر لار به هم بندوو ،تیره کي دګردیز لار هم بندوو ، خوست کي به هم لاره بندوو په سروبي باندي به هم حمله کوو لته بند لاره به هم بندوو ، لمړي تعرض به په بګرامي وي دوهم تعرض به دچهلستون له لاري نه تر لوګر ، پوري وي تعرض اجرا شو ددغسي لاري نه چي موږ ګمان نه کولو ، ددغسي یوقوماندان په مرسته چي موږ سره یې معاهده درلوده چي هغه به کله هم دښمن سره دحزب په خلاف سازش نه کوي اوموقع به نه ورکوي چي له شانه په حزب حمله وکړي.

متاسفانه چي اوس ایمان څوپریږده خلکو حتي خپل غزت النفس هم ګروکړي دڅه پیسو په خاطر هغوي دحزب سره همداخیانت وکړ.

له شانه په حزب تعرض وشو ، هغوي په لمړي تعرض کي څه پیشروي هم درلوده څه مناطق یې هم ونیول زموږ افراد هم ونیولي شول وسائل هم په لاس ورغلل ، سبا له په ډېر غرور اوتکبرسره هغوي اعلان وکړ چي داسلامي دولت! داردو ځواکونو دکابل دشااوخوامناطقو دتصفیي له پاره د حزب اسلامي دسنګرونو پرخلاف دخپلوعملیاتو لمړي مرحله پیل کړه. اودومره وسایل هم په غنیمت ونیولي شول. ...

زموږ مجاهدینو سبا له پس له څوساعتونو نه ،تعرض پیل کړ ټول هغه منطقي بیرته تصفیه شوي ، دهغوي ټول قوتونه دمنطقي نه به شاتمبیدو ته مجبورشول اوښه زیات کسان یې په اسارت ونیول شول سبا ته چي هغوي دچهلستون له طرف نه دتعرض اراده درلوده زموږ مجاهدینو عملیات پیل کړ دچهلستون نه تر جنګلکه او بریښنا کوټه پوري داټولي منطقي ونیولي شوي وروسته یې لته بند کي هغوي کماندو کوزه کړه څوساعته بعد هغه لاره هم خلاصه شوه وریسي بندغازي چي هلته دوي کوماندو

کوزکړي وو اودحزب په خلاف له هغه ځاي نه مسلسل دثقیلي وسلي انداخت کیده دحزب مجاهدینو تصفیه کړه بالاخره داعملیات دروس سفارت پوري ورسیدل دا ټوله وسیع ساحه دحزب مجاهدینو ونیوله کله چي هغوي ولیده چي خبره همغسي نشوه چي دوي تصور کاؤ دوي ډېري اخیستي وو چي مبادا اوس کابل ونه نیسي ، مورال یې ختم شو ، افرادیې تیښتي ته مجبور امکانات یې هم ختم شوي وو کوښښ یې وکړچي دشمال قوتونه په جنګ کي داخل کړي هیئاتونه یې ولیږل فیصله یې وکړه چي اوس بله چاره نشته مګر داچي جنرال رشید دوستم دي ته اړکړوچي په جنګ کي داخل شي هئیات ولیږه ترڅو دهغه ټول شرایط ومني اوهغه خامخا په جنګ کي داخل شي ، هیئات ولیږل شو ، هیئات بیرته راوګرځید ، سبا یې بي ، بي سي ... اعلان وشوچي دوزارت دفاع معاونیت هغوي ته سپارل شوي اوهغوي هم منلي دي ددي اعلان سره سم په کابل کي دخوشحالي ډزي پیل شوي موږ حیران وو چي دادزي دڅه له پاره

دادهغوي دغلطي پالیسي نتیجه وه چي ټول ملت اوتنظیمونه یې په مقابل کي ولاړدي

کیږي آخر څه شوي دي او څه خوشا لي ده وروسته پوه شو چي وجه یې همدا وه چي ، بي ، بي سي اعلان کړي چي جنرال رشید دوستم ته وزارت دفاع معاونیت منلي چون هغوي نوردمقاومت توان په ځان کي نه لري دي ته ځان مجبور ګڼلي چي هغوي په جنګ کي داخل کړي هغه هم ونشو ، هغوي ته هم خلکو وویل چي پخوا موږ هم له دوي سره یو ځاي وو.

جنګ موکړي حتي نوري ولي هم له موږ سره وي څه مو له لاسه ونشو. اوس که بیا هم ددوي ملګرتیا وکړونو ددي جنګ نه به څه ترلاسه کړو؟ هغوي په جنګ کي یې طرفي اعلان کړه اودهغوي دټول کوښش سره ، سره په جنګ کي داخل نشول ، په داسي حال کي چي دحزب مجاهدین ښه دپیشروي په حالت کي وو اوهغوي دمقاومت توان اوطاقت له لاسه ورکړي وو پاکستان ته یې احوال ولیږه په طیاره کي تللي هیئات له قاضي صاحب حسین احمد نه یې وغوښتل چي هغه راشي میانجګیري وکړي ، هغه هم ددي له پاره چي پوهیدل چي موږ دمحترم قاضي صاحب خبره په ځمکه نه اچوو خامخا چي هغه راشي اورینډ به وي ، که داورینډ معاهده ونه منل شي موږ دهغه په احترام مجبور اورینډ اعلان کړو همغه قاضي صاحب حسین احمد چي څه وخت دمخه یې هغه ته وویل چي په افغانستان کي دوېني توئیدو عامل دي دي . هغه ته یې لاس اوږدکړافغانستان ته یې راویللو دهغه دراتلو سره سم موږ اورینډ پیل کړ مذاکراتو ته تیار شو خبري پیل شوي ، ددي ټولو سوابقو سره ،سره په دي خاطر چي موږ سوله غواړو ، موږ داقتدار په خاطر دجنګ نه کرکه لرو، موږ نه غواړوچي داقتدارله پاره یوقطره وینه توي شي ،چي څنګه هغوي داومنله چي نورجنګ نه کوم دجنګ نه نادم یم دخبرو اترو له لاري دمسئلي حل اوفصل غواړم موږ بلادرنګ ،بلاځند مذاکراتو ته تیار شوي یو دوي اصرار وکړ چي مذاکرات دي دملك نه بهروي موږ ورسره ومنل . ددغه مذاکراتو په دوران کي موږ ته اطلاع ورسیدله چي هدف دادي چي تاسو؟ مذاکراتو کي برخه واخلي هلته تعرض پیل کړي . ماوویل یوځل بیا دي هم هغوي وازموي څوځلي ئ‌تعرضونه نورهم کړي دادي هم وکړي، پرون هغوي یوبل تعرض وکړ له اوو بجو نه هغوي په دوو محاذونو کي تعرض شروع کړي دجنګلك اوبریښنا کوټ په طرف ، ورونه آماده نه وو څه

پیشروي یې ... اونیسي ګټلي ... پاره ... شاتمبیدلي اوزموږ مجاهدینو پرمختګ کړیدي دشیني په طرف ،پلچرخي دکلي په طرف هم مجاهدینو څو پوستي نیولي اومخکي تللي په داسي حال کي چي دلته مذاکرات روان دي خو هغوي په دي خاطر چي ګمان کوي دجنګ نه پرته بل بدیل نه لري دجنګ نه پرته په افغانستان کي پاته کیدي نشي ، حکومت نشي کولي ، له ملت نه تجریدشوي دي ،له سیاسي لحاظه دتنظیمونو نه بیل شوي یوازي پاته دي اوملت ته یې ډېر بد امتحان ورکړ خلکو ولیده چي په دوي کي داتوان اوکفایت نشته چي ملك اداره کړي په ملك کي امنیت تامین کړي ، ماته ووایاست یو څوك چي دومره ضعیف وي هغه دملك رئیس ـ چي دده دپوځ یوجنرال دي نه دي تیار چي دده دمبارکړ حتي یوځل کابل ته لاړشي خو ددي له پاره چي دهغه مرسته جلب کړي نه یوازي مسلسل هیئاتونه لیږي بلکه په خپله شخصاً ځلورځله دهغه زیارت ته دورمي ،

یوخوك چي دومره ضعیف وي هغه به ملك څنګه اداره کړي شي؟.

مذاکرات په اسلام آباد کي پیل شول موږ دي ته تیار یو چي داټول سوابق هیر کړو دوروروولي ، دتفاهم او ددوستي نوي باب پرانیزو ، دي ته تیار یو چي یوبل ته دورووري لاس ورکړو داځکه چي موږ په دي باور لروچي ددي جګړي اصلي عوامل په ائتلافي اداري کي کمونست عناصردي ، همدغه کمونست عناصر دي چي غواړي مجاهد ځواکونه په خپلو مینځونوکي وجنګوي مترصددي ،په کمین کي دي چي کله دوي ضعیف شي نو په قدرت باندي به دوي قبضه کوي اودتاجکستان تجربي تکرار دلته په افغانستان کي وکړي خو هغوي دي په دي پوه شي چي غلط پوهیدلي افغانستان ، تاجکستان سره مه مقایسه کوي ،دلته دکمونستانو بیاتسلط مستحیل دي ، ټول امکانات یې ختم شوي ، کیدي شي ځیني قدرت ته حریص دوکه کړي ، داخلي جنګونو ته یې وهڅوي اودڅه فتنو باعث هم شي ، جهادي ځواکونه دڅه مودي له پاره په خپلو مینځونوکي سره وجنګوي خوان شاءالله په افغانستان کي به دمجاهدینو دخوښي اسلامي حکومت جوړیږي ، موږ په مذاکراتو کي برخه واخیسته په صداقت اواخلاص موغوښتل چي مسئله دي دمذاکراتو له لاري نه حل اوفصل شي.

نظر موداووچي ټول تنظیمونه دي په یوموقت حکومت په خپلو مینځونوکي توافق وکړي دي ته موترجیح ورکوله چي په دي مؤقت حکومت کي رهبران برخه ونه لري . ټولو تنظیمونو ته دمنلو وړ شخصیتونو دي یوه مؤقته اداره جوړه کړي.

بیادي شپږ میاشتي بعد انتخابات وشي چي دملت اکثریت په چا اعتماد وکړ هغه دي راتلونکي حکومت جوړکړي، ددغه انتخاباتو له لاري دي یوه منتخبه شورا جوړه شي کوم چي به دملك له پاره اساسي قانون جوړوي خو مقابل طرف په دي اصرارکولو چي استاد رباني به ددوو کلونو له پاره درئیس جمهور په حیث مني موږ ویل که استاد رباني داغواړي چي موږ هغه دشوراي اهل حل اوعقد له خوا دټاکل شوي منتخب رئیس جمهور په حیث ومنو.

دي ته تیار نه یو ، ددي معني داده چي موږ دوکه ،رشوت ،خیانت داټول منو ، دتزویر له لاري چي یوه شورا جوړه شي

٦مخ

زه تاسو ته اطمینان درکوم چې راتلونکې مو...

په داسي حال کي چي دملت نماینده نه ده هغه ته دملت دنماینده ویلو ته تیارنه یو اما که دټولو تنظیمونو په توافق دیو حکومت جوړول په دي پوري مربوط شي چي یوله دوي نه دي رئیس جمهوروي په شمول داستاد رباني مونږ دامنلي شو. په دي شرط چي داحکومت دي دمذاکراتو په نتیجه کي جوړشي ، که دمذاکراتو په نتیجه کي داضروري ولیدلي شوه چي استاد رباني دي رئیس جمهور شي مونږ هم دامنلي شو اعتراض نه لرو مشروط په دي چي انتخابات تضمین کړي.

مونږله دي خبري سره توافق وکړچي استاد .رباني دیونیم کال له پاره د رئیس جمهور په حیث منلي شو ددي خبري اوهغي خبري ترمینځ فرق دادي چي مونږ هغه درئیس جمهوریه حیث منلي دي بایي منلي شو. مونږ هغه پدي شرط درئیس جمهور په حیث منلي شو. چي په ټول حکومت کي دټولو تنظیمونو ترمینځ توافق راشي ،یومکمله جامع موافقتنامه دي ترتیب شي چي په

مونږنه غواړوچي داقتدارپه خاطردي یوه قطره وینه توییې شي مونږ داقتدارپه خاطر له جګړي ځخه کرکه لرو

هغه کي به انتخاباتو مسئله توضیح شوي وي، په هغه کي به درئیس جمهور اود صدراعظم صلاحیتونه تثبیت شوي وي هغه ته دکابیني اختیارات دکابیني دځرنګوالي په باب واضح احکام موجودوي چي که دغسي یوجامع اوشامله موافقتنامي باندي دټولو تنظیمونو ترمینځ توافق وشي مونږ دي ته تیار یو چي استاد رباني داته لسو میاشتو له پاره دهغه داصرار اوټینګار په وجه درئیس جمهور په حیث تعین کړو ، هغوي هم داومنله چي صحیح ده شپږ و اتو میاشتو په مینځ مینځ کي دي یوي منتخبي شورا له پاره انتخابات وشي او بیادي دغه منتخبه شورا دملك له پاره اساسي قانون جوړکړي او بیادي یوکال بعد ددي اساسي قانون مطابق راتلونکي حکومتونه اوپارلمان جوړشي خو هغه په دي اصرارکولو چي هغه به درئیس جمهور په حیث منل کیږي.

خوددي په ځنګ کي دهغوي دااصرار ؤ چي مسعود به دوزیر دفاع په حیث ومنلي شي.

مونږویلي چي که وجه وښودل شي کیداي شي دا هم ومنو دلیل څه دي مګر دجمعیت له پاره اشتاد رباني درئیس جمهور په حیث اومسعود د وزیر دفاع په حیث دلسو میاشتو حکومت کافي نه دي .لس میاشتي لس خونړي جګړي چي په لکونو کسان دکابل نه هجرت ته مجبور شول ، دکابل ښارووران شو، ټولي ملي شتمني تالاشوي ، دالس میاشتي حکومت بس نه دي په دي ، لسو میاشتو حکومت کي تاسي څه وکړل چي لاتورهم غواړي حکومت وکړي مسعود ونه شو توانیدلي چي ،کابل کي امنیت راولي، دجګړومخه ونیسي چي اوس بیا هم اصرارکوي چي هغه دي دوزیر دفاع په حیث پاته شي . هغه ویل چي زه مسعود لري کولي نشم.

مونږ ویل صحیح ده که هغه نشي لري کولي نومسعوددي دوزیر دفاع په حیث پاتي شي ته خوځان لري کولي شي ،دځان په باب خوفیصله کولي شي دځان اختیارخولري ، ستاپه عوض به بل څوك رئیس جمهور وټاکو . مونږ دا هم منو خو هغه دي ته هم تیارنه دي . مونږ وویل اکثریت تنظیمونه یې هم نه مني که مونږ یې ومنو نو اکثراحزاب یې نه مني.

متاسفانه چي اوس ګورو چي هغه په دي باندي اصرارکوي چي مسعود دوزیردفاع په حیث پاتي شي . مونږ وایو ددي معني خو داده چي مونږ یوځل بیا داحکومت جمعیت ته وسپاره اوبیوځل بیا داتیره ترخه تجربه تکرار شي. بیا دي په کابل کي دجنګونو سلسله ادامه وکړي مونږ آخر دجګړو سره ، دبې امنیتي سره دچور ، چپاول اوغارت سره څنګه توافق وکړو ،ماوویل زه دي ته هم تیار یم چي شپږ ومیاشتو لپاره داټول حکومت استادرباني ته وسپارم شپږ میاشتي بعد دي انتخابات رشي که زمونږ نه پرته هغوي امنیت راوستلي شي مونږشپږ میاشتي نور هم انتظار کوو، داحکومت ټول تاسوته سپارودنوروتنظیمونو توافق حاصل کړي زه یې منم اما که غواړي چي حزب اسلامي دي خامخا په حکومت کي شامل وي اوهغه ته ځان ار اومجبور ګڼي حزب اسلامي دي ته هم تیار دي خو په دي شرط چي حکومت به حکومت وي اوهغه به دملك داداري توان اوکفایت لري هغه سره به دملت دخدمت کولو صلاحیت اواختیاروي ،مونږ دغسي یوحکومت ته نه یو تیار چي هروزارت یې بیل حکومت وي هر وزارت دي ددځپل تنظیم دفتروي داسي حکومت ته تیارنه یو چي دوزیر دفتر دي په اسلام آباد کي وي . دکابل دحکومت وزیر خداي خبر چي په دي لسومیاشتو کي دڅوورځو له پاره کابل ته تللي.

که غواړي چي حزب اسلامي په حکومت کي وي مونږ دي ته تیار یو خو داسي حکومت چي د ملك خدمت وکولي شي ملك اداره کړي شي اوامنیت تامین کړي شي دکابیني دجوړولو اختیاردي صدراعظم سره وي په همدي باب بحث وو چي ماویل اوس یونوي تجربه نشو کولي راځي دنیاددي مختلفو ماډلونو نه یونظام ځان ته قبول کړو ،پاکستان دادي زمونږ په څنګ کي دي راځي دصدراعظم اودرئیس جمهور ترمینځ داختیاراتو په هکله دهمدغه دپاکستان تعامل مراعات کړو ، په پاکستان کي درئیس جمهور کوم اختیارات وي هغه به رئیس جمهورته ورکړو چي که په پاکستان کي دصدراعظم اختیارات وي هغه به صدراعظم ته ورکړو ، په پاکستان کي دکابیني دجوړولو اختیارات دصدراعظم دي راځي کابینه دي هغه جوړه کړي ورونو ! سره له دي چي مونږ په اخلاص سره په دي مذاکراتوکي برخه اخیستي اوغواړو چي مسئله دي حل شي ، ددي طرفدار یو چي جنګ دي دتل له پاره پاي ته ورسیږي ، داغواړوچي دټولو تنظیمونو په توافق دي یو مؤقت حکومت جوړشي بیا دي دملك دپاره دیونظام اساس کیښودلي شي .نظام دي ته نه وایي چي پنځه نفره به کښیني دټول قوم سرنوشت به ټاکي په خپلو مینځونوکي په وزارتونه ، کابینه تقسیموي په دي باندي یوملك نشي اداره کیدای په دي باندي یونظام نشي جوړیدلي .

ورونو متاسفانه چي تراوسه پوري مونږ څه خاص توافق ته نه یو رسیدلي اورادیو ګانو کي داتبلیغ شوي دي چي موافقي شویدي خوزه دومره ویلي شم چي باید څه مزیدصبروکړو او داتبلیغات څه خاص بنیاد اواساس نه لري.

امیددي چي مونږ توافق ته ورسیږو اوجمعیت ته خوداپه کاروه چي ښه په جرات اومیړانه په دي اعتراف کړي واي چي له مونږ نه رسواه شوه اوس مونږ نه غواړو چي دامسؤلیت دي زمونږ په اوږو دروند شي ، قوم دي خپله فیصله وکړي ، زه بالکل تعجب کوم ما هغه بله ورځ جلسي کي هم ویلي په خداي (ج) قسم دغسي حکومت چي داستاد رباني و دلسو میاشتو له پاره خو پریږده چي دلسو ساعتو نو او ګنټو له پاره یې هم نه قبلوم ، په غیر اسلامي ملکونو کي به ګوري د یوعادي پیښي په نتیجه کي دپولیس اودمظاهره چیانو ترمینځ به برخورددوي ځونفره به زخمیان اومړه شي سبا ته به ګوري چي صدراعظم استعفي کوي کابینه منحل شي منتخب صدراعظم استعفي کوي منتخبه کابینه چي پارلمان ورته رایه ورکړي هغوي استعفي کوي. ولي دلته ملك ورانیږي لس میاشتي وینه توئیږي.

په کابل بمونه وریږي چنداول ورانیږي کارته سخي ، جمال مینه وراُنیږي رحمان مینه ، کارته نو ، بګرامي ، چهلستون ،کوته سنګي ،دکابل نیمایي برخه ورانیږي په زرګونو کسان په قتل رسیږي خوبیا هم اصرارکوي چي هغه درئیس جمهور په حیث پاتي شي هغه دي دوزیر دفاع په حیث پاتي شي.

مونږ خوپه خداي ایمان لرو ، په آخرت ایمان لرو، زمونږ په وړاندي خودغسي روایات دي چي دحضرت عمر(رض) په هکله ګوري چي څه وایي ، هغه وایي چي که زما ګناهونه اوددي ټول خلاقت په دوران کي چي ما کوم نیك کارکړي دابرابر وګڼلي شي دابه زما کمال دسعادت اوافتخار وي همغه عادل عمرچي وایي که زما دملك په یو لري ګوښه کي دیوي وزي پښه هم په یوه پله کي ماته شي دهغي په وړاندي زه مسؤل یم ستاد ارګ خواته خلك مري په ناموس یې تیري کیږي ، کورونه لوټ کیږي ، میړه مجبور ده چي دښځي جنازه په سرواخلي اودارګ خواته کیږدي چي دادي زماپه کوربې تیري وکړ او مسلح کسان ننوتل او بالاخره زما ښځه یې ووژله دادي زما دکورنه یې ښځه وتښتوله پوستي ته یې بوتله خومونږ احساس دمسؤلیت نه کوو ، هنوز هم اصرار کوو چي مونږ دي په حکومت کي پاتي وو.

موږدخداي (ج) په لاره کي ځان وقف کړي وو، مونږ داجهاد داسي کوولکه لمونځ داجهاد داسي کوو لکه روژه چي نیسو مونږ هیڅ څه دځان له پاره نه غواړو ، مونږ هرڅه دخپل قوم له پاره غواړو زمونږ غوښتنه صرف داده چي نوردي څوك په توپ ټانك په افغان ولس حکومت ونکړي زمونږ غوښتنه داده چي ځوك دي دسازشونو له لاري دبهرنیو په مرسته په افغان ولس حکومت ونشي کولي مونږ داغواړوچي حکومتونه دي دملت په خوښه جوړشي ، مونږ دا غواړو چي افغان ولس دي خپل مشراوزعیم په خپله وټاکي ،مونږ داغواړو چي له دي نه بعد دي دقدرت دانتقال په پروسه کي وینه توي نشي اسلحه دي استعمال نشي ځوك دي دځوجنرالانو په مرسته قدرت ته درسیدلو شوق ونکړي.

